# د افغانستان اسلامی جمهوریت
# د عامي روغتيا وزارت
## دروغتيايي خدمتونودعرضي لوي رياست
## د ايډز د کنترول ملي پروګرام




هغه وګړي چې د اچ ای وي او ايډز سره ژوند کوي حق لري چې د مخنيوي، درملني، پاملرنې او مرستندويه خدمتونو ته لاس رسي ولري.

**دروغتيائي ودې د رياست خپرونې**
**۱۳۸۸ کال**

## پاملرنه!

- اچ ای وي د مخنيوي وړ دی
- راځئ چې په ګډه د اچ آی وي مخنيوی وکړو.
- که چيرې د خپل اچ آی وي د حالت په اړه شکمن ياست نو د خپلې خوښې د مشورې او آزمايلو مرکزونو يا VCT ته ولاړ شئ او خپل ځان ونازوئ کړئ

**په کابل او ولايتونو کښې د خپلې خوښې د مشورې او آزمايلو د مرکزونو پته:**

- کابل، د سينما پامير مرکزي پولی کلينيک ۰۷۹۶۰۸۷۳۹۹
- بلخ، د عامی روغتيا رياست ۰۷۹۹۵۰۸۰۸۳
- جلال آباد، د مستوفيت چوک، د ملاريا او لشمانيا رياست
- ۰۷۹۹۵۰۸۰۸۴
- بدخشان، د فيض آباد د عامی روغتيا رياست ۰۷۹۹۵۰۸۰۸۶
- کندز، د کندز د لوړو زده کړو کوځه ۰۷۷۸۵۲۲۷۶۷
- هرات، د هرات د عامی روغتيا رياست ۰۷۹۹۵۰۸۰۸۵
- غزنی، د غزنی ښار دريم پلان د اقتصاد د رياست تر څنګ ۰۷۹۹۱۸۵۸۷۸
- قندهار، د قندهار د عامی روغتيارياست، ۰۷۹۷۱۳۴۱۷۳

- هغه کسان چې د اچ ای وي او ايډز سره خپل ژوند پر مخ بيايي کولای شي چې د ټولنې د نورو وګړو په څير خپل ورځنی ژوند ته دوام ورکړي.
- د ايډز ناروغان د نورو ناروغانو په څير مرستې ته اړين دي
- د ايډز ناروغانو څخه لکه د نورو ناروغانو په څير د حال پوښتنه وکړئ.
- اچ آی وي د ګډې ستنې او پيچکارې په ځانګړې توګه د زرقي معتادينو په منځ کښې زيات خپريږي.
- ګرانو هيوادوالو! راځئ چې لاسونه سره ورکړو او پرينږدو چې اچ ای وي او ايډز تر مونږ راورسيږي.

## روغتيايي پيغامونه

- زرقي معتادين بايد د شريکې ستنې د استعمال څخه ډډه وکړي.
- د خال وهلو په وخت کی دی د يوې ستنې څخه شريکه استفاده ونشي.
- د غاښونو او جراحي سامان آلات بايد مخکې له عمليات تعقيم شي.
- د وينې د تطبيقولو څخه مخکې بايد وينه د اچ آی وي او نورو هغو ناروغيو لپاره چې د وينې له لارې خپريږي وآزمويل شي.
- هغه ميندې چې اچ ای وي او ايډز لري نو ماشوم ته د دی ويروس د خپريدو د مخنيوي لپاره دی يو روغتيايي مرکز ته ولاړې شي.
- د جنسي مقاربت (زنا او لواطت) څخه ډډه وکړئ څرنګه چې په الهي فرمان کښې راغلي دي:

هيڅ کله زنا ته مه نږدې کيږئ ځکه چې دا يو ډير ناوړه او نه خوښوونکي لاره ده.
**(د اسرا سوره ۳۲ آيت)**

- تل د خپل ژوند د شريکي او يا شريک سره وفادار واوسئ.
- که چيرې ښځه او يا ميړه په مقاربتي ناروغي باندي اخته وي نو بايد تر پوره درملنې پورې د کاندم يا پوښ څخه کار واخلي، ځکه کاندم يا پوښ د مقاربتي ناروغيو د مخنيوي لپاره ښه وسيله ده.

## اچ ای وي څه شی دی؟

دانسان د بدن د دفاعي سيستم کمزور کونکي ويروس دی.

## ايدز څه شی دی؟

ايدز د اعراضو او علايمو مجموعه ده چې د بدن د دفاعي سيستم د پرمختللي کمزوروالي په پايله کښې په کسبي توګه منځ ته راځي.

## دايډز د ناروغي نښې او نښانې:

### لويې نښې:

1. له لس په سلوکی زيات خپل وزن بايلل .
2. له يوې مياشتې ډير پرله پسې نس ناستې.
3. له يوې مياشتې څخه ډير پرله پسې تبه.

### ورې نښې :

1. دبدن په بيلا بيلو برخوکی د لمفاوي غدو غټوالی.
2. پرله پسي ټوخی .
3. په خوله او ستوني کښې سپيني نښی (کانديډياز)
4. د بدن په بيلابيلو برخوکی خارښت لرونکی سوروالی.
5. پربدن د دانکيو يا Herpes zoster پرله پسي پيدا کيدل.
6. د دانکيو يا (HSV1) له سببه دوامداره ټپونه.
7. د حافظې له لاسه ورکول او د محيطي اعصابو له منځه تلل.

## ايـــــدز په نړی کښې

د ملګرو ملتونو د اچ ای وي اوايډز پروګرام يا UNAIDS او نړيوالی روغتيايي اداري د ريوټ پربنسټ چې په ۲۰۰8کال کښې خپور شوی دي، په ټوله نړی کښې ۳۳،۲ مليونه کسان د اچ ای وي سره ژوند کوي چې شاوخوا نيمايي يې ښځې دي. په ۲۰۰۷ کال کښې ۲،۵ مليونه انسانان نوي پدې ويروس اخته شوي او شاوخوا ۲،۱ مليونه کسانو د ايډز له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

په سويلي آسيا کښی ۴،۲ مليونه کسان له اچ آی وي سره ژوند کوي.




د اچ ای وي او ايډز خدمتونو ته د ټولو لاس رسي او د بشر د حقوقو رعايت

تر اوسه پوري د بيلابيلو سرچينو څخه د۵۵۶ پيښو ريوټ ورکړل شوی دی.

- تر اوسه 9 کسان د ايډز له امله مره شوی دي.

## د اچ آی وي د خپريدو لارې

- د ويني د تطبيقولو له لارې په هغه صورت کې چې وينه په اچ آی وي ککړه وي.



- که چيرې د جراحي سامان آلات په سمه توګه تعقيم شوي نه وي

- ميندو څخه ماشوم ته د اچ ای وي خپريدل کله چې مور په اچ آی وي باندې اخته وي. دا خپريدل د بلاربښت، زيږون او شيدو ورکولو په مهال منځ ته راځي.



- د ناروا او غير خوندي جنسي اړيکو له لاری (د همجنس او غير همجنسو تر منځ) .



- د زرقي معتادينو په منځ کښې په ځانګړی توګه د هغو په منځ کښې چې ستنې يو بل سره شريکوی.



- د خال وهلو پر مهال چې د يوې ستنې څخه څو کسانو ته کار واخيستل شي

## هغه لارې چې د اچ آی وي ويروس تری نه خپريږي

- دا ويروس د عادي ورځني چارو له لارو نه خپريږی لکه:



- لاس ورکول، ښکلول او يا په غير کښې نيول.



- پرنجيدل او ټوخی کول .



- يوځای کښيناستل او يا يوځای کار کول.



- د ډوډی خوړلو شريک لوښي



- په ډنډ کي يوځای لامبو وهل



- د لاس پاک او د تيليفون نه ګډه ګټه اخيستل



- د شريک تشناب څخه ګټه اخيستل.

- د مياشو د چيچلو له لارې.